United Nations
Development Fund for Women
UNIFEM
part of UN Women

## انیس البردي، د یونیفیم (د ملګرو ملتونو د ښځو د څانګه) اجرایوي مشره رسنیزه وینا

یونیفیم (د ملګرو ملتونو د ښځو څانګه) د افغانستان له اسلامي جمهوري دولت مننډوی او د دې دولت درناوی کوي چې افغانستان ته یې د یونیفیم د اجرایوي مشرې آغلې انیس البردي د لیدو کتو بهیر ته اسانتیا برابره کړه.

په خپلې درې ورځیني کتنه کې، آغلې انیس البردي، د ښځو چارو وزارت، د سولې د عالي شورا غړو په ګډون له یو شمیر لوړ پوړو چاروا‌کو سره ولیدل او همدارنګه د جندر پر وړاندې د تاوتریخوالي پر ضد په ۱۶ ورځنیز نړیوال کمپاین کې چې د ښځو چارو د وزارت لخوا تنظیم او د افغانستان د اسلامي جمهوریت د ولسمشر جلالتمأب حامد کرزي په واسطه پرانیستل شو، ګډون وکړ. هرګوره آغلې انیس البردي د دولتي استازو، مالي مرستندویانو، مدني ټولنې او په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د ادارو او ماموریت د لوړ پوړو مشرانو په ګډون له یو شمیر کلیدي شرکاو سره هم وکتل. نوموړې په دواړو یانې د ملګرو ملتونو په عمومي دفترونو او هم په سیمه ییزه کچه د ملګرو ملتونو د ښځو د څانګې په اړه خپله پوهه او هم یې خپل ازمیښتونه شریک کړل.

آغلې انیس البردي د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي اړوند نوي قانون په ګډون د جندر د تساوي، د ښځو ځواکمنولو او خوندي کولو، او د اغیزمن ملي ځوابونو په اړه چې ټولنیز خوندیتوب هم رانغاړي، د افغانستان اسلامي جمهوري دولت له استازو، پراختیایي شرکاو او د مدني ټولنو له سازمانونو سره یو لړ مهمو خبرو اترو مشري هم وکړی.

د دغې درې ورځني کتنې په لړ کې، آغلې انیس البردي د هغو پرمختګونو لامله چې د ښځو د حقونو، تساوي او ځواکمنولو چې په ځینو لاسته راوړنو لکه د ښځو پر وړاندې د هر ډول تاوتریخوالي د لمنځه وړلو د کنوانسیون، د افغانستان ملي پراختیایي ستراتیژي او د افغانستان د ښځو لپاره د ملي کاري پلان پر تصویب تمرکز کوي، خوښي څرګنده کړه. د هغو پرمختګونو ښکاره او څرګندول دي چې د قانون جوړونې او پراختیا په ډګر کې د جندر د لیدلوري له پلوه چې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د لمنځه وړلو پر نوي قانون باندې په ټینګار سره چې د تاوتریخوالي لامله د بلهاري شویو ښځو د حقونو د خوندي کولو په لارو چارو کې یو مهم ګام بلل کیږي. په دې تړاو د مدني ټولنې، د ښځو د خوځښتونو او د ځوانانو د ډلې ونډې هم د مننې او درناوي وړ دي.

په افغانستان او د ملګروملتونو د ښځو د څانګې په ونډه کې د ښکاره فرصتونو لیدل اوازمایښت د ستاینې وړ دی. د بیلګې په توګه د لندن کنفرانس، د کابل کنفرانس، د سولې جرګه، د سولې عالي شورا جوړېدل او د نویو ټاکل شویو ښځینه وکیلانو لاسته راوړنې; دغه ټول هغه ارزښتمن ګامونه دي چې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو لخوا ورته د فرصتونو په سترګه لیدل کیږي ترڅو په افغانستان کې خپل ماموریت ته چې له سولې سره مرسته ده، دوام ورکړي. د جندر پر وړاندې د تاوتریخوالي پر ضد د ۱۶ ورځنیز نړیوال کمپاین په غونډه کې د ولسمشر وینا هم یو ځل بیا د جندر د برابروالي د برخې ښه کول او د ښځو او نجونو د حقونو د خوندي کولو ژمنه په ډاګه کړه.

د افغانستان له دولت او ولس سره د یونیفیم اوږدمهال او زیات شوی ملاتړ له ۲۰۰۲ زیږدیز راهیسې پیل شوی. څرنګه چې یونیفیم د ملګرو ملتونو د ښځو څانګې ته بدلون مومي نو دغه څانګه به د افغانستان د دولت د وړتیا په لوړولو، ملاتړ او مرستې په لارو چارو کې ډېره ونډه ولوبوي. د یونیفیم ( د ملګرو ملتونو د ښځو د څانګې) په استازیتوب د ملګرو ملتونو د مرکزي دفتر په ملتیا یو ځل بیا د افغانستان له اسلامي جمهوري دولت سره د ملګرو ملتونو د اوږد مهال ملاتړ او مرستې ژمنې یو ځل بیا څرګندویي کوم ترڅو د افغانستان دولت وتوانیږي د خپل ولس پر وړاندې په ځانګړه بیا د ښځو او نجونو ته شوې ژمنې پوره کړي.